# الفلق

**مکی سورة دی ۵ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١

**(ای پیغمبره!) ووایه: پناه وړم د هغه ستر رب حضور ته چې د شپې تیاره پردې څیروی( او د روڼ سهار روښانه پلوشې ترې راخپروی).**

مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢

**د ټولو مضرو مخلوقاتو له شر څخه چې ( الله تعالی) پیدا کړی دی.**

وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣

**او د شپې د راخپرې شوې تربږمې له شر څخه چې هر څه پټ کړی( او د سحر او کوډو په شمول ډیر بد پلانونه او دسیسې پکې جوړیږی) .**

وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤

**او د هغو ( ښځینه او نارینه) کوډګرو له شر څخه چې غوټې ترې او جادو پرې وایی.**

وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ٥

**او د هر حاسد او رخه کوونکی له شر څخه.**

**« تمت سورة الفلق بفضل الله و رحمته»**

**=======================**